مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایـاز نـوري آزادي ۲۰۱۸/۰۴/۰۶

آفرين شه، بي بي سي راډيو پښتو څانګه

درنو افغانانو! د افغانستان د استقلال د محصل اعليحضرت مرحوم غازي امير امان الله خان لور اغلي اندیا (دافغانستان) د روان کال د فبروري د میاشتې په ورستیو کښې د انګلیس هېواد ته د خپل سفر په ترڅ کښې د نړۍ د مشهوري نشراتي موسسي بي بي سي راډيو پښتو څانګې مقر ته ورغلې وه او دغه مهمه په زړه پورې تاريخي مرکه ئې د رپوټ په شکل هلته تر سره کړې وه. په دې توګه زه لکه يو افغان فرد د نومورې خبرې مرکز اړوندو ټولو درنو مامورينو لکه شاغلي محمد داود اعظمي او ورسره ملګرو څخه د هغوی د دغه ملي خدمت په خاطر احساس د خوښي کوم. دا هم د مرکې پيل سره د اړوندو انځورونو:

پخوانی افغان پاچا غازي امير امان الله خان د خپلې کورنۍ د غړو سره، روم ایټالیا ۱۹۳۲ز کال

«د افغانستان د پخواني پاچا امان الله خان لور شهزادۍ هنديه په لندن کې د بي بي سي دفتر د کتنې پرمهال، د خپل پلار او مور ملکې ثريا په اړه هغه کيسې وکړې چې تراوسه ډېر لږ خلک پرې خبر دي. شهزادۍ د پلار پرتله خپله مور له اولادونو سره د کورنۍ ډسپلين پلي کولو کې جدي وبلله. دې د امان الله خان هغه له احساساتو د ډکو شېبو کيسه وکړه چې افغانستان پسې به خپه کېده.

د بي بي سي لندن ودانۍ ته "د افغانستان شهزادۍ راغلې". د دې له اورېدو سره د بي بي سي ځينو غيرافغان کارکوونکو تمه درلوده چې يوه پېغله به پر مخ ورشي، خو چا چې د افغانستان په اړه مطالعه درلوده يوازې همدا ورته کافي ول چې د افغانستان شهزادۍ اوس هم ژوندۍ ده.
د فبروري پر ۲۳ شهزادۍ هنديه چې پښتو څانګې ته راورسېده، هغه چلند ورسره وشو چې دې له پلار سره کاوه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

"زمور په کور کې د افغاني دود پر بنسټ مشر ته درناوی او ورته درېدل عام و" شهزادی د دې له ویلو سره د امان الله خان په کور دننه یو عادت بربند کړ او زیاته یې کړه " نو زه به د پلار لپاره ډېره درېدم، ځکه چې هغه ډېره انرژي درلوده هر دقیقه به تلی او راتلی."
د میز ګردچاپېره زه او همکاران مې د شهزادی هندیې هري خبرې ته غوږ وو. مور ټولو خپلې خپلې پوښتنې درلودې او دې هم نه غوښتل د چا پوښتنه بې ځوابه تري پاتې شي.
په کراري یې خبرې کولې، که به یې څه په یاد نه ول اعتراف به یې کاوه او که به پر څه ډاډه نه وه، د بل چا وړاندیز شوې کلمه به یې نه تکرارولې.
کله چې به لمر د غره شا ته یا په سمندر کې لوېده... بابا جان به مې ویل، اولادو غلي اوسئ، اوس مه غږېږئ... او دغه مهال به یې اوښکې راغلې. افغانستان به یې یادېده شهزادی هندیه
او مور هم... نه غوښتل د ناویلې نا لیکلې تاریخ د غږیزې نسخې یو توری هم نااوربدلی پرېږدو.
شهزادی هندیه د خپل پلار او خپلې مور ملکې ثریا داسې عادتونه تشریح کړل چې د کورنۍ په تربیه کې یې مهم ول. هغې د پلار پرتله خپله مور له اولادونو سره د کورنۍ ډسپلین پلي کولو کې جدي وبلله او پلار یې هغه کس وباله چې اولادونو به په اسانۍ ورسره د زړه خبره شریکولې شوای.

شهزادی هندیه خورا مهربانه چلند لري او د غږېدا پر مهال خپلو ټولو مخاطبینو ته یو ډول پام اړوي

د شاه امان الله خان لور شهزادی هندیه نژدې ۸۹ کلنه ده او په افغانستان کې ځینې مرستندویه کارونه هم پرمخ بیایي، په دې عمر کې یې هم فکر او یادښت دومره قوی دی چې په کوچنیوالي ورزده کړي شیان او کړې مطالعه یې له جزیاتو ډکه په یاد ده.
دې ویل چې پښتنه ده خو په مورنۍ ژبه پښتو غږېدلی نه شي. په نورو پنځو ژبو ښکلي او د کلمو په شمار غږېږي.
د مجلس پر ګډونوالو خپل پام داسې وېشي چې هر یو فکر وکړي د دې مستقیم مخاطب دی.
د دې په وینا، د پلار د "مردم داری" او مشر او کشر ته د درناوي عادتونه ورپاتې دي.
شاه امان الله خان تر لس کلنې واکمنۍ او په هېواد کې دننه له جنجالونو وروسته، د ۱۹۲۹ کال د جنورۍ پر۱۴ (د ۱۳۰۷ کال دجدي ۲۵) له ناچارۍ افغانستان پرېښود او ایټالیا ته ولاړ.
لور یې وایي، کورنۍ یې د دویمې نړیوالي جګړې پرمهال په ایټالیا کې له سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ وه.
شاه امان الله خان له وطن لرې مړ شو او مړی یې افغانستان ته یووړل او په جلال اباد کې خاورو ته وسپارل شو.
بې بې سي کې شهزادی هندیه د امان الله خان هغه له احساساتو د ډکو شېبو کیسه وکړه چې افغانستان پسې به خپه کېده.
چې پوښتنه مې تري وکړه ایا د خپل پلار ژړا یې کله لېدلې وه؟ سترګو یې وار له مخې زما پوښتنه ځواب کړه او ویې ویل.
"کله چې به لمر پرېوته، دا مهال به زما د بابا جان ډېر خوښېده، د نرۍ تر ټولو ښایسته د ورځې وخت دی، بېلابېل رنګونه... کله چې به لمر د غره شا ته یا په سمندر کې لوېده... بابا جان به مې ویل، اولادو غلي اوسئ، اوس مه غږېږئ... او دغه مهال به یې اوښکې راغلې. افغانستان به یې یادېده."

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دې خبرې دومره درومند سورى خپور کړ چې د موضوع بدلول يوه لويه ستونزه جوړه شوه. دا جرائت نه و چې بل څه مطرح کړو.

'امان الله خان به مازديگر مهال افغانستان پسې ژړل'

شهزادې د پلار کلک دينې او عقيدوي باورونه يو له هغو مسلو وبلل چې خلک يې په اړه ډېر نه پوهيږي او ځينې بيا د ده په اړه بر عکس فکر خپروي.

زمونږ همکار داود اعظمي ترې وپوښتل چې په يوه کتاب کې يې د شاه امان الله د حج د سفر په اړه لوستي و، که په دې اړه څه ووايي؟ نو شهزادې سعودي عربستان ته د شاه امان الله د تګ په اړه وويل:

"پلار مې دوه ځله حج کړى و. هرځل چې تللى و د لومړي ابن سعود مېلمه و. دوهم ځل يې خپله مور بيولې وه."

د پاچا امان الله خان ضد تبليغات او د هغه اسلامي عقيده

داود اعظمي

پاچا امان الله خان له انګريزانو څخه د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ ترلاسه کېدو وروسته دهېواد د پرمختيا او د خپلې ټولنې د ودې او "عصري" کېدو خوا ته پام واړوه.

نومورې په دې لړ کې يو شمېر ګامونه پورته کړل، هېواد ته يې لومړى اساسي قانون جوړ کړ چې په هغه کې د نورو ترڅنګ د ښځو حقونو ته پر درناوي ټينګار شوى وو.

دده د حکومت ځينو اصلاحاتو د ټولنې په ځينو برخو کې حساسيتونه راوپارول او ناکرارۍ راوټوکېدې.

د امان الله خان پرضد تبليغات پيل شول او ويل کېدل چې د هغه اصلاحات د اسلام خلاف دي.

په دې لړ کې د امان الله خان او ملکې ثريا د اروپا د سفر پر مهال (ډسمبر ۱۹۲۷- جون ۱۹۲۸) اخيستل شوي عکسونه هم د ده پرضد د پروپاګند په توګه وښول کېدل، چې خلکو ته وښودل شي چې د افغانستان ملکه په لوڅ مخ او سر ګرځي.

په دې لړ کې د ۱۹۲۸ کال د مې په مياشت کې، په پېښور کې د خان عبدالغفار خان (باچاخان) د "پښتون" مجلې په لومړۍ ګڼه کې"د افغانستان ملکه او د يورپ لباس" تر سرخط لاندې يو مضمون چاپ شو.

د عبدالحميد افغاني په دغه مقاله کې ليکل شوي و چې د ملکې ثريا د عکسونو له کبله هغه کسان "په افغانستان کې د فساد پيدا کولو کوشش کوي" چې "د زماني د رنګ نه نااشنا دي".

د انځور حقوقGETTY IMAGES

پر همدې مهال له انګريزانو څخه د هندوستان د ازادۍ يوه مخکښ مبارز او ديني عالم مولانا عبدالرحيم پوپلزي (۱۸۹۰-۱۹۴۴) په پېښور او شاوخوا سيمو کې د امان الله خان لپاره د ملاتړ د راغونډولو او هغه د حکومت د بې ثباته کولو د مخنيوي هلې ځلې پيل کړې.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خو په هېواد کې د ننه او بهر دغه ډول هڅو د امان الله خان رژیم ونه ژغورلای شوای او هغه له اروپا څخه تر راستنېدو څو میاشتې وروسته جلاوطنۍ ته مجبور شو او په ایټالیا کې مېشت شو.
ما ډېر کلونه مخکې د مولانا عبدالرحیم پوپلزي په یاداشتونو کې لوستلي وو چې کله هغه په ۱۹۳۴ زېږدیز کال کې سعودي عربستان ته د حج لپاره ولاړی نو په مدینه منوره کې یې یو سړی ولیدی چې د مسجد نبوي فرش یې د اسلام پیغمبر ته د ډېرې مینې او درناوي په لړ کې د سر په وېښتانو جارو کوی او ترسترګو یې اوښکې بهېدې.
مولانا پوپلزي لیکلي چې د دې حیرانوونکي صحنې په لیدو یې پوښتنه وکړه چې دا سړی څوک دی.
ده ته وویل شول چې دا د افغانستان پخوانی باچا امان الله دی.
مولانا پوپلزی زیاتوي چې په افغانستان کې خلکو امان الله له دې کبله له هېواده وایستی چې دی له اسلام څخه اوښتی دی، خو ما دلته په دې حالت کې ولیدی.
تېره میاشت د امان الله خان لور شهزادۍ هندیه چې اوس ۸۹ کلنه ده، دلته د بي بي سي دفتر ته راغلې وه.
ما د خبرو پر مهال له هغې وپوښتل چې پاچا امان الله خان کله حج ته تللی و.
شهزادۍ هندیه وویل چې " پلار مې دوه حجونه کړي ول او دوهم ځل یې خپله مور هم بیولې وه"، خو دې وویل چې د حج کلونه یې په یاد نه دي.

د نورو عکسونو پرتله له حج وروسته د شاه امان الله خان عکس ډېر نه دی خپور شوی، خو لور یې وایي "عکس مې یې لیدلی چې سپین یې اغوستي ول. چې راستون شو نو ږیره یې هم وه چې ورسره ډېر ښه ښکارېده. "

'شاه امان الله خان دوه ځلې حج ته تللی و'

شهزادۍ چې د خپل کوچني والي یادونه یې تازه کول، ته وا د کور دېوالونه یې ګردچاپېره احساسول، په معصومیت کې یې د هغو رنګینو شېبو کیسه وکړه چې د شهادت کلمه یې زده کوله.
"مور ته دین او د دین تاریخ پلار را زده کړ او دعاګاني انا را زده کولې. زه پنځه کلنه وم چې یوه ورځ مې انا غږ وکړ، امان الله! راشه چې در ښکاره کړم اولادونو دې څه ښې دعا ګاني زده کړي دي. مور ته چې به یې هر وخت دعا را زده کوله او مور تکراروله، انا به مې په پای کې مور ته ویل، شاباس افرین.
"نو چې ماته یې وویل، هندیه! راشه ته دې دعا ووایه، ما وویل 'لااله الا الله محمد رسول الله، شاباس افرین'... ټولو وویل، دا څه وایي؟ ما وویل، ببوجاني... زه څه پوهېرم خو تاسي به همداسي ویل."
د امیر حبیب الله خان درېیم زوی امان الله خان د افغانستان له هغو لږو واکمنانو څخه دی چې د ټولنې پر بنسټیزو اړتیاوو یې کاروکړ او د افغانستان د چټکې پرمختیا ارمان یې درلود.
"د پلار دري وتلي صفتونه مې دا دي چې، وطنپرست و،ملت دوست و او زړور سړی و."
د لومړۍ برخې پای
دوهمه برخه: د ډیورند کرښه، ملکه ثریا، شاه امان الله خان او انګرېزان، د پاچا مرینه»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ